ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022

Vol.8 No.2 2024

# د طاهر اپرېدي افسانوي مجموعه "تا سره خبرې"کښې د ښځو ټولنیزې ستونزې

## WOMEN SOCIO-PROBLEMS IN THE SHORT STORIES “TA SARA KHABARE’’ OF TAHIR APRIDI

**Suriya Begum[1], Dr. Mazhar Ahmad[2]**

**ABSTRACT:**

*Tahir Afridi was a well-known Pashto and Urdu language progressive and nationalist fiction writer, novelist, reportaj writer, Travelogue writer and the founder and editor of the Pashto quarterly magazin "Jars". He was born on January 4, 1939 in a village named Hasan Khel Bori Sokra, a sub-division of Dara Adam Khel. In the beginning, he used to write poetry under the name of Tahir Asar, but later he started writing fiction under the name of Tahir Afridi and gained fame under that name. He developed progressive tendencies in his short stories. Along with other evils in his society, he wrote extensively on the problems of women. In this article, the problems of women in Tahir Afridi's fictional collection "Ta Sara Khabare" have been researched.*

طاهر اپرېدے د پښتو ادب يو ډېر لوستے او ستر ليکوال تېر شوے دے۔ پښتو ادب ته ئې د نظم او نثر د لارې ډېرې بخښنې کړې دي۔ او د دغه کوټلو خدماتو په وجه ئې په پښتو ادب کښې يو ډېر لوړ مقام موندلے دے۔ د نورو خدماتو نه علاوه که مونږه اوګورو نو د پښتو افسانې په مېدان کښې ئې کار د ستائېلو وړ دے۔ او د معيار او مقدار دواړه تله ئې ډېره درنه ده۔ د طاهر اپرېدي خپل نوم ترکستان دے او په ادبي دنيا کښې د طاهر اپرېدي په نوم پېژندلے شي۔

" تر څو چې د هغه د نوم خبره ده نو د هغه خپل نوم "ترکستان" دے۔ خو په ادبي دنيا کښې په طاهر اپرېدي دومره بللے شوے دے چې دغه نوم ئې څوک نۀ يادوي۔ د هغه د پلار نوم مير اکبر او د نيکۀ نوم ئې وزير ګل وۀ۔ د وزير ګل د پلار نوم عباس خان او د عباس خان د پلار نوم "بتهے" نيکۀ وۀ"[1]

د طاهر اپريدي تعلق د "اپرېدي" قبيلې سره وۀ۔ د دوي د پېژندګلو په حقله سليم راز ليکي چې

"طاهر اپريدے لکه څنګه چې نوم نۀ ظاهره ده اپريدو د قبيلې سره تعلق ساتي۔ او د دره ادم خېل نۀ نمر خاته طرف ته د بوړې کلي اوسېدونکے دے۔ چې پۀ کال ۱۹۳۹ کښې پېدا شوے دے۔"[2]

طاهر اپرېدے د خپلو ليکونو په ذريعه يو ډېر لوستے شخصيت معلومېږي، خو چې کومې زده کړې په ښوونځي او داسې نورو ادارو کښې کيږي، دوي بيخي نۀ دي کړي او نۀ ئې په ادب کښې د چا نه زده کړه کړې ده۔ ادب او شعر سره ئې فطري مينه او ذوق وۀ"[3] طاهر اپرېدے د خپل ماشومتوب او خاندان د حالاتو په حواله داسې ليکي:

[1] PhD Research Scholar, Department of Pashto University Of Malakand.
[2] Assistant Professor, Department of Pashto University Of Malakand.

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

"او چې کله ما د بې ربطه، بې مطلبه او بې بنیاده خبرو چل زده کړو نو د کاڼو، ازغیو، جرګو مرکو، دښمنو تربګنو، کرکې، حسد او بدل اخستو قبائلي ماحول په ما خپل ځانګونه راخوارهٔ کړل۔ زما د کلي قبیلې په لارو کښې د دغه ماحول غټ غټ کاڼي او تېرهٔ تېرهٔ ازغي خوارهٔ وارهٔ پراته وو او په دغه کاڼو د ادم د اولاد سرونه ماتېدل۔ او پښې ئې پرې ژوبل کېدې۔ د کلي نخښې، تکبر او د پښتو شان خو ښکارېدلو ولې د کور او حجرې په توره کوټه کښې د علم یوه تته شان ډیوه هم نهٔ بلېده۔ کله کله به د جمات د ګوټ نه د الله اکبر یا قرآن مجید د تلاوت اواز اوچت شو۔"[4]

د پورته لیک نه مونږ ته دا اندازه کیږي چې ښاغلي طاهر اپرېدي دغه اوان د زده کړو څه خاص بندوبست نهٔ لرلو خو دا مسئله قدرې د دوي نهٔ وه، بلکې مجموعي طور دغه ځائې د جهالت دام خور وهٔ او د خلقو رجحانات دې طرف ته په نشت حساب وو۔ یو بل ځائې د خپل لیک لوست په حقله لیکي چې۔

"خدائې خبر په داسې ماحول کښې زما مشفق د ارتې سینې او روښانه ذهن مالک، زما والد زما په ذهن خورېدونکي د ماحول دغه تیارهٔ څنګه محسوس کړه چې زهٔ ئې غېږ کښې ونیولم او د شپې په تیارو، د ستورو او سپوږمۍ او لاټېن په شته رڼا کښې ئې زهٔ په خلا کښې د خپلې ګوتې په الف، ب، ج په مفهوم پوهه کړم۔ د باباجي ګوته ئې قلم او سینه راته کاغذ یا تختۍ جوړ شول۔ او ما لوستل زده کړل"[5]

په پښتو ادب کښې چې کومو لیکوالانو په نورو ذریعو سره پیسې ګټلې دي او په پښتو ئې لګولې دي، په دغو کښې طاهر اپرېدے هم شامل دے۔ لیکي۔

"کراچۍ کښې چې ټوله ورځ ټېکسي چلولو نه پس به ستړے ستومانه راغلم نو د "ابن صفي" د ناولونو په مېنځ کښې به مې کله کله قلم کاغذ راواخستل او څه ګډ وډ لیکل به مې وکړل"[6]

د طاهر اپرېدي ادبي سفر بغېر د څهٔ لاربنود نه شروع شوے دے۔ په ۱۹۵۶ء کښې ئې خپل ادبي سفر شروع کړے دے او تر مرګه ئې دغه رشته ژوندۍ ساتلې ده۔ په دې حقله لیکي چې:

"هم دغه مجلو په برکت ما د رحمان بابا، حمید بابا او خوشحال خان خټک نه پس حمزه بابا، زېتون بانو، سمندر خان سمندر، ایوب صابر، قلندر مومند، ربنواز مائل، ولي محمد طوفان، همېش خلیل، نصرالله خان نصر، ارباب رشید احمد، رشید علي دهقان، سید رسول رسا، سید مهدي شاه مهدي، ګل افضل خان او داسې نور ډېر لیکوالان اوپېژندل۔ او د هغوي د لیکلو سره بلد شوم۔ د نظم نثر د دغه درنو مشرانو پېښې ما هم وکړې او یو څو مات شعرونه مې هم ولیکل چې ورکښې د طاهر اپرېدي په نوم اخبارونو کښې هم چاپ شول"[7]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

د پښتو ادب په ښۀ افسانه لیکونکېو کښې د ښاغلي طاهر اپرېدي یو لوړ مقام دے. دوي د ابتداء نه د پښتو ادب ځولۍ ته ډېرې بخښنې کړې دي او د نورو خدماتو نه علاوه ئې د پښتو افسانوي ادب بخښنې د قدر او ذکر وړ دي. په پښتو افسانه لیکونکېو کښې د ښاغلي طاهر اپرېدي یو لوړ مقام دے. د دوي افسانې په فکري بڼه ډېر وسعت لري او د ژوند سره تړلي ډېر موضوعات په کښې موجود دي. د نورو اړخونو نه علاوه دوي په خپلو افسانو کښې د ښځینه ستونزو په حواله هم ډېر څۀ وئیلي دي او په دې حقله د دوي افسانې د ارزښت وړ دي.

زنانه د ټولنې بنیادي حصه ده، او ټولنه د زنانه نه بغېر نیمګړې ده. ولې د دې هر څه باوجود دا په ټولنه کښې د مختلفو مسئلو سره مخ پاتې شوې ده. په ټولنه کښې چې زنانۀ ته کوم مسائل دي مختلفو افسانه نګارو په خپلو افسانو کښې د دغه اړخونو ته پام لرنه کړې ده. ادب د ژوند ترجمان او عکاس وي او دغه ټول اړخونه زمونږه د ټولنې او چاپېرچل برخه وي. ښاغلي طاهر اپرېدي په خپلو افسانو کښې ډېر په هنري ډول د ښځینه ستونزو بحث مباحثه مخې ته راوړې ده. ښاغلے طاهر اپرېدے چونکې په یوه پښتنه ټولنه کښې پېدا شوے دے او په پښتون چاپېرچل کښې پاتې شوے دے په دې وجه په ټولنه کښې د زنانه د ژوند او دۀ سره د کېدونکېو رویو نه په ښۀ شان سره خبر وۀ. په دې اساس دوي په خپلو افسانو کښې دغه ټول بحث راوړے دے او تر ممکن حده ئې کوشش کړے دے، چې په ټولنه کښې زنانۀ ته پېښې مسئلې په خپلو افسانو کښې مخې ته راوړي. د نورو افسانوي مجموعو نه علاوه ئې په افسانوي مجموعه "تا سره خبرې" کښې هم دغه موضوع ته دوامیت بخښلے دے.

د طاهر اپرېدي افسانوي مجموعه "تا سره خبرې" په کال ۲۰۱۳ء د جولایۍ په میاشت د اشاعت د مرحلې نه تېره شوې ده. په دغه افسانوي مجموعه کښې چې کومې افسانې دي په دغو کښې انسان او حېوان، یو موټے سړے، تیندک، د تیاره د خاوندانو غږ، د زغلېدونکي وخت یوه لمحه، تاسره خبرې، تیارې تیارې رڼا رڼا، بنیادم څومره ظالم دے، روڼ سحر به کله راځي، څوک ژوندي وي د چا دپاره او ست شامل دي. هره یوه افسانه په فني او فکري دواړو حواله سره ډېر کوټلې او ښکلې ده. هسې خو په دغه ټولو افسانو کښې په فکري بڼه ډېر موضوعات دي. خو د ښاغلي طاهر اپرېدي یو کمال دے چې که هغوي په یوه موضوع باندې منفرده افسانه هم لیکلې ده، ولې په دغه افسانه کښې ئې ورسره نور موضوعات راوړي دي. په دغه افسانوي مجموعه کښې یوه افسانه د "په وینو سرۀ روټۍ" په نوم ده .

بنیادي طور خو په دې افسانه کښې د ټولنې د حال احوال په حقله ډېر څه موجود دي، او دا افسانه زمونږ د چاپېرچل او ټولنې ډېره ترجماني کوي. په ټولنه کښې چې کوم طبقاتي اړے ګړے وي او بیا پرېوتي خلق چې په ټولنه کښې څومره زپلے کېږي، په دې حواله دغه افسانه د ډېر اهمیت وړ ده خو د دې هر څۀ نه علاوه په دې افسانه کښې په ټولنه کښې زنانۀ ته د پېښو شؤو مسئلو ته ډېر په ښکلي انداز ګوته نیسلے شوې ده. په دې افسانه کښې د یو ماشوم او د هغۀ د مور ذکر دے. د بختیا ر د مور کردار زمونږه د چاپېرچل د یوې زنانه کردار

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

کېدے شي د ټولنې د يه زړلي شوي کردار ترجماني کوي. عام طور که مونږه د ټولنې په لور نظر وکړو نو زياتره داسي کيږي چي بلها زنانه زمونږه په ټولنه کښې د داسي بې حِڅو په لاسو کښې ښکېل کيږي او د رنګ رنګ اذيتونه سره مخ ژوند کوي. او بيا يوه ښائسته او ښکلې پېغله چې کله په ټولنه کښې بې خاونده شي نو بلها تږي نظرونه د خپل حوس د تندې ماتولو هڅې کوي. او هم دغه ځرک د ښاغلي طاهر اپرېدي په دغه افسانه کښې ليدے شي. د يادولو وړ ده چې که هر څو په يوه معاشره کښې څوک ښکلې او ښائسته پېغله بې خاونده ژوند کوي ولې چې پښتنه وي نو هيڅ کله خپل عزت او ناموس نۀ پيکه کوي. او تر ممکنه حده خيال ساتي چې خپله پښتو او پښتونولي ژوندۍ وساتي. ظاهره ده چې په يوه ټولنه کښې نارينه او زنانه دواړه د يو بل دپاره د سهارې نه کم نۀ وي، او يو بل ته ارو مرو ضرورت لري، ولې دغه ځائې يوې پښتنې د خپلې پښتو او عزت دپاره خپل ټول امېدونه او ارمانونه په خپل زړۀ کښې دفن کړي وي. لکه چې طاهر اپرېدے ليکي.

"د بختيار مور ډېره ښائسته او ځوانه وه او چې د کوم بنيادم حسن، ښائست او ځواني سره يو ځائې شي نو د هوس د خواهشونو په ډيري ناست د جنس وږي تږي لېونو په خله کښې لاړې ډنډونه شي او په وښکو ئې راوڅڅيږي. که څه هم د هغه مور د خپل سوۀ اسوېلو ساه اوږده کړه او د هغې د تږي وجود ارمان تندې اخستے وۀ، خو د عزت او ناموس په لمن ئې داغ نۀ وۀ."[8]

هم په دغه افسانه کښې د بختيار د مور د خاوند د وفات نه پس د هغې د وږي تږي جنس اندازه څۀ داسي کيږي. طاهر اپرېدے په دغه افسانه کښې وړاندې ليکي.

"که ستا پلار تر اوسه پورې ژوندے وے نو اوس به ته داسي يوائې نۀ وې، تاسره به يوه خور يا يو ورور خامخا وے". او بختيار د يو ورور خو کمے په هغۀ ساعت محسوس کړه او د مور د سوي اسوېلي سره ئې خپل سوے ارمان هم لوګے کړه"[9]

په يوه ټولنه کښې چونکې نارينه او زنانه دواړه په يو ځائې ژوند کوي نو په دې وجه دواړه د يو بل دپاره لازم ملزوم وي. او چې کله په دغه جوړه کښې يو هم اخوا دېخوا کيږي نو دغه په ټولنه کښې د مسئلو سبب جوړيږي. په يوه معاشره کښې د يوې زنانه د ژوند ملګرے وژل هم د زنانه سره ظلم او زياتے دے چې ښاغلي طاهر اپرېدي ئې په خپله افسانه کښې ذکر کړے دے. هر څو که د دغه افسانې بنيادي موضوع جدا ده ولې په يوه ټولنه کښې ئې د زنانۀ د مسائلو ښۀ عکاسي کړې ده. اکثر داسي کيږي چې په يوه ټولنه کښې کله داسي بې سهاره زنانه اوسيږي نو اکثر ئې د ځينو درندګانو په وجه د عزت جنازه اوځي. او هم دغه شان په دې افسانه ښاغلي طاهر اپرېدے ليکي.

" ښکلا ځواني او ښائست بده بلا وي، او هغه ورځ د بختيار مور خپل جونګړه غوندې کور ته ځوړند سر ښکته سترګې راغله لکه پردے او د ظالم جابر جرم او ګناه ئې په خپل سر اخستے وي، د هغې په سرۀ سپين مخ د ببوسه اوښکو سيندونه بهېدل او په سرو اننګو ئې د حېواني

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

دا ړو چاپونه ځرګند ښکاریدل او هغې د خپلې بې وسۍ، مجبورۍ او بې اسرې ژوند او ځوانۍ ته د ملک تورو نېغو ولاړو برېتو ته سپېرې سپېرې ښېرې کولې"[10]

د ذکر وړ ده چې په ټولنه کښې اکثر د هغه ښځو او زنانو سره د جبر ظلم او تشدد رویه په مختلفو حوالو سره کیږي د کومو چې د تپوس ځوک خاص نۀ وي او دغه ظلم او زور زیاتي کښې اکثر د ټولنې بادار او لوئې خلق ککړ وي. که مونږه د ښاغلي طاهر اپریدي په دغه پورته افسانه نظر واچوو نو د بختیار د ښکلې او حسینې مور عزت هم د کلي د ملک په لاسو لوټ کیږي. او چې کله په یوه ټولنه کښې د یوې پېغلې سره داسې اوشي نو هغه بیا د خپل مرګ سوا کوي. ځکه چې د هغې زړۀ ضمیر په یو حال دا صورتحال نۀ زغمي. لکه چې په دغه افسانه کښې د بختیار د مور دغه احساسات دي.

"یا الله زما ځواني ښائست د ملک د برېتو سره په بارودي اورونو لمبه لمبه کړې، یا ربه زما په دې لوټلې وجود او دردېدلي ژوند د ملک د برېتونو سره اور پورې کړې، یا لله ! . . . . او لکه د هغې سوې خبرې او بد دعاګانې د الله په حضور سمدستي قبولې شوې وي."[11]

هم دغه شان ښاغلي طاهر اپریدي په خپلو نورو افسانو کښې دغه موضوعات راوړي دي. په ټولنه یا معاشره کښې د یو سړي ژوند ځانله ځانله وي ولې بیا هم خلق د نورو خلقو د نظرونو نه نۀ اوځي. په ټولنه کښې د هر یو انسان په کړو وړو ټکونه کیږي. د نارینۀ سره سره په ټولنه کښې اکثر د زنانه په ذات او د هغې په کردار هم د مختلفو زاویو نه ټکونه کیږي. کله کله په معاشره د جینۍ رنګ او نسل هم د هغې شخصیت راپرېباسي او د خلقو په نظر کښې هغه د عزت د مقام په ځائې سپک نظري وومي. د ښاغلي طاهر اپریدي په افسانه "انسان او حېوان" کښې دغه فکر ډېر په ښکلي ډول مخې ته راوړلے شوے دے. لکه چې لیکي.

"د لونګین مور لکه د نورو مئیندو د لونګین کور ابادولو ارمان زړۀ کښې غزونې اوکړې. او هغۀ د یوې ښې جینۍ پۀ لټون سر شوه. او د هغې وړومبے نظر پۀ توره پرېوتو. د تورې اصل نوم خدائې خبر چې څۀ ؤ خو د رنګ نۀ توره سکڼه وه او هم دغه وجه وه چې د کلي ټولو وړو زړو هغه پۀ توره بلله"[12].

هم دغه افسانه کښې یوه بله ستونزه باندې هم بحث شوے دے چې د هغې مثالونه پۀ ټولنه کښې پۀ سوونو او زرګونو شتون لري او روزانه دغه قسم واقعات مخې ته راځي چې هغۀ د یوې پېغلې د عزت مسئله وي . بعضې شرمخان د خپل هوس د اور د مړ کولو دپاره د دغه تورسرو عزت تارتار کړي. چې دغه اړخ پۀ دې افسانه کښې لیکوال داسې وړاندې کوي.

"او دغه شپه د دې لوئې کلي پۀ ژوند کښې پۀ وړومبي ځل تر ټولو لویه واقعه اوشوه چې که د کلي بنیادمو کښې څۀ لږ هم د انسانیت سرېتوب احساس وے نو د خوارې، یتیمې او بې اسرې

خو پۀ وجود پېغلې تورې سره د کلي خلقو بههم ځانونه وژلي وے او د پېغلې تورې د حيا لمن ځۀ تار تار شوله"۔[13]

د ابتداء نه جهان په نارينه او زنانه باندې اباد دے، او دواړه د يو بل دپاره د لباس نه کم نۀ دي۔ خو کله کله په ټولنه کښې نارينه زنانه ته هغه مقام او ځائې نۀ ورکوي کوم چې ورله پکار وي۔ او دا هم په ټولنه کښې د زنانۀ سره يو قسم زياتے دے۔ طاهر اپرېدے يو حساس ليکوال وۀ او د ټولنې د دغه حقيقتونو نه ډېر په ښۀ شان خبر وۀ۔ په خپله افسانه "يو موتے سرے" کښې ئې په دې حقله ډېر د ستر او اټل حقيقت نه پرده پورته کړې ده۔ په افسانه کښې ظفر خان او شاله بنيادي کردارونه دي۔ دواړه د يو بل سره په ابتداء کښې ژوند په خوښه پيل کړي، ولې ظفر خان د شاله سره د مينې د روايت قائمولو نه پس پيسه د ژوند بنيادي عنصر وګڼي او د دشالې سره د مينې په ځائې خپل ټول وخت د مال او دولت په لټون تېر کړي، چې په اخېره کښې بيا د شاله دغه حقيقت داسې بيانوي۔

"ما د دۀ سره ټول عمر مينه کړې ده خو دې حرصي بنده ماته زما د ژوند هغه برخه رانکړه کومه چې زما حق جوړېدو۔ دې حرصي بنيادم ژوند يو اځې په مال جائيداد او په زرو ترلے وۀ، خو هغه په دې نۀ پوهېدو چې مينه يو اځې په مال دولت نۀ ده، ترلې، مينه مينه ،،،،،،"[14]

په ټولنه کښې د زنانه د هر يو ضرورت خيال ساتل د هر يو سړي فرض دي، يو طرف ته که د زنانه د مادي ضرورتونو خيال ساتل لازمي دي نو بل پله ئې د نظر نه دومره هم غورځول نۀ دي پکار چې هغه د مينې تږې پاتې شي۔ ځکه چې د نورو ټولو وسائلو سره سره د خپلو ټولو زنانه رشتو ته د مينه ورکول او د هغوي پوره تقدس ساتل لازمي او ضروري وي۔ په دغه افسانه کښې که ظفر د دشالې د ژوند د هر قسمه ضرورياتو خيال ساتي، هغې ته هيڅ کله د مال او دولت کمے نۀ راولي خو چې هغه د مينې د هغې پېرزوئنې نه محروموي کومه چې د هغې زړۀ غواړي نو هغۀ د خوشحالۍ د اظهار په ځائې د خفګان اظهار کوي۔ په ټولنه او چاپېرچل کښې د ظفر په شکل کښې بلها داسې ځوانان ژوند کوي چې د زنانۀ سره هم دغه رويه لري۔ په دغه افسانه کښې يو پله د زنانۀ دغه ستونزه بيان شوې ده نو ورسره په کښې د اصلاح رنګ هم غالب دے۔ که چرته مونږه د خپلو ځانونو نه دغه کمے لرې کړے نو امکان دے چې مونږه خپله ټولنه ډېر زر د ترقۍ او سوکالۍ په لور ګامزنه کړو۔ په دغه افسانه کښې دا پېغام هم شته چې که مونږه خپل ژوند قدرې د پيسې او مال دولت تکل وګرځوو او دغه مو د ژوند اهداف هم وي نو مونږه يو موتے سړے کېدے شو نۀ چې يو لوئې سړے۔

انسان په معاشره کښې د ژوند د مختلفو پړاوونو نه تېرېږي، او رنګ رنګ حالات په انسان باندې راځي، زنانۀ ته په ټولنه کښې مختلفې مسئلې راتلے شي۔ يو خو ورسره په ټولنه کښې اکثر ظلم زياتي کيږي۔ خو د دې هر څۀ نه علاوه چې کله په يوه ټولنه يا چاپېرچل کښې زنانه د ژوند ملګرے بائلي نو په ډېر کړکېچنو حالاتو کښې ئې ژوند شروع شي۔ ښاغلي طاهر اپرېدي په خپله افسانوي مجموعه "تاسره خبرې" کښې په خپله افسانه "تيندک" کښې په دې حقله هم ډېر څه راوړي دي۔ او د زنانۀ د دغه ژوند اصل حال ئې د قلم ځوکې ته په

ډېر هنر سره بخښلے دے. د دغه افسانې په بنيادي کردارونو کښې د يوې پېغلې عاشي، سرتاج، سراج او د عاشي د ملګرې شانګلۍ کردار د ذکر وړ دي. عاشي چې د ابتداء نه د سرتاج په مينه کښې ډوبه وي او د سرتاج هم دغه حال وي او دغه د مينې سلسله تر وادهٔ ورسي. او بيا څه وخت پس د دوي دغه جوړه د "سېراج" په شکل کښې يو ماشوم هم د خپل کور ښکلا وګرځوي. د عاشي او د هغه د ژوند د ملګري ډېر ښهٔ ژوند وي، د يو بل سره ډېر مينه کوي. خو چې کله چې ئې د ژوند خوند رنګ نور زيات شي نو څه تور تور کسان راشي او د عاشي د ژوند ملګرے او ځوئې په ابدي خوب اودهٔ کړي او عاشي د تنهايۍ د ژوند سره مخ شي او دغه ژوند د هغې دپاره د عذاب نه کم نهٔ وي.

> او نن سحر د نمر سپينه رڼا د کلي په دېوالونو ايله خوره شوې وه چې عاشي د کوټې نه داسې په تندۍ رابهر شوه لکه ځوک تور مخي يو ځل بيا په کلي رادننه شوي وي، هغه د کور په صحن انګڼ کښې پروت نيم شلېدلي کټ کښې ورپرېوتله لکه د ناراستۍ او ستومانۍ نري نري مېږي ئې په وجود خواره شوي وي. "نن خو هغه ميراته شانګله هم چرته ورکه شوه چې رابښکاره نهٔ شوه"[15]

په معاشره کښې چې زنانه کومو سترګو ته ژوند کوي هغه د مور او پلار نه پس خاوند او د خاوند د کور ځل او د هغې اولاد کېدے شي. که چرته دغه ژوند په يوې پېغلې د دغه ناوړه حالاتو په وجه اور شي نو د هغې د ژوند بلها سپرلي په خزانونو بدل شي. لکه چې په دغه افسانه کښې ښاغلے طاهر اپريدے ليکي.

> "هغې په کټ کښې په ملاسته په وړومبي ځل يو اسوېلي سره داسې ارمان وکړو چې د زړهٔ درد ئې لکه سپوا شوے وي او په کټ کښې ئې راټولې شوې دواړه پښې وغزولې خو شايد د هغې پښو د غزېدو نه انکار کړے وهٔ. هغې په يو ارماني او بې وسه نظر لر او بر وران کور ته په درنو درنو سترګو وکتل.
>
> "اف خدايه! دغه کور څومره ويران ويجاړ دے او نن دا زړهٔ مې دومره بې وار ولې درزېږي."[16]

وړاندې ليکي.

> "د عاشي اودهٔ حس په وړومبي ځل رابيدار شو د هغې په زړهٔ کښې په ذهن کښې د پخوانو او هېرو شوو يادونو کرښې جوړې کړلې او هغې ته د تېر شوي ژوند لمحه لمحه راياد بدله. او چې د مازيګر زيړ نمر په پرېوتو شو نو هغې په دې خوشي وران کور کښې د راغونډو پښو غزولو هڅه وکړه خو....

او چې په بل سحر نمر ختلے شانګله د عاشي کور ته رابنکاره شوه نو د کور په انګڼ کښې په نیم شلېدلي کټ کښې عاشي داسې راټوله، غونډه منډه پرته وه لکه ټوله شپه ئې ښځ ډېر ساړه شوي وي"[17]

په پښتو افسانه کښې د زنانۀ د ټولنیزو ستونزو په حقله ډېر څه موجود دي۔ د زیتون بانو نه علاوه ښاغلي طاهر اپرېدي په خپلو افسانو کښې په شعوري توګه د زنانۀ د ټولنیزو ستونزو د بیانولو یو شعوري کوشش کړے دے۔ او که دوي چرته په یوه جدا موضوع هم افسانه لیکلې ده نو د زنانۀ د ټولنیزو ستونزو په اړه ئې په کښې ارو مرو څۀ خبره راوړې ده۔ د ښاغلي طاهر اپرېدي د افسانوني مجموعې "تاسر خبرې" کښې نور داسې ډېر لیکونه شته چې د هغې نه مونږ ته دغه اړخ واضحه کیږي۔ په خپلو افسانو کښې د زنانۀ د ټولنیزو ستونزو په اړه بحث کول او دغه موضوع ژوندۍ ساتل د سنجیده لیکوال خصوصیت وي او دغه موضوع د طاهر اپرېدي په سنجیدګۍ تر ټولو لوئې دلیل کېدے شي۔ څومره پورې چې ما د دوي افسانوي مجموعه "تاسره خبرې " ولوسته نو په دې نتیجه ورسېدوم چې د دوي په افسانوکښې د زنانۀ د ټولنیزو مسائلو په حواله سره ډېر څه موجود دي۔

## حوالې

[1] عطاء، عطاءالرحمان، ډاکټر، د طاهر اپرېدي افسانو کښې حقیقت نګاري، ګران خپرندویه ټولنه سوات، مارچ ۲۰۲۳ء، مخ

[2] سلیم راز،زۀ طاهر اثر پېژنم۔مشموله،د محلو خوا کښې،طاهراپرید ے،پېښور،پکتیا پبلي کېشنز،جنوري ۱۹۷۱،مخ۳۵

[3] هم دغه اثر، هم دغه مخ

[4] طاهر ابرېد ے، سفر مدام سفر، کراچي اکېډیمي، ۱۹۸۹ء، مخ ۸

[5] هم دغه اثر، مخ

[6] طاهر اپرېد ے، "زما ادبي سفر" مشموله "لاره کښې مابنام"، مخ ۲۱

[7] هم دغه اثر، مخونه ۲۰، ۲۱

[8] طاهر اپرېد ے، تا سره خبرې، جرس ادبي جرګه کراچۍ، ۲۰۱۳ء، مخ ۴۰

[9] هم دغه اثر، مخ ۴۱

[10] هم دغه اثر، مخونه ۴۱، ۴۲

[11] هم دغه اثر، مخ ۴۲

[12] هم دغه اثر،مخ ۲۱

[13] هم دغه اثر،مخ۲۸

[14] هم دغه اثر، مخ ۳۷

[15] هم دغه اثر، مخ ۵۶

[16] هم دغه اثر، مخونه ۵۶، ۵۷

[17] هم دغۀ اثر، مخ ۵۷